# د همېش خلیل
# د تذکره نگارۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه

## A Critical & Research Based Analysis Of The "*Tazkira Nigari*" Of Hamaish Khalil

ډاکټر جاوید اقبال*

**Abstract:**

Hamaish Khalil is one of the leading and reputed literary figure of pashto literature. He has contributed a number of literary works in assorted fields of Pashto language and literature. Pashtanah Likwal, Wraka Khazanah, Da Charbeti Osani Shaeran, Da Charbeti Pakhwani Shaeran, Jangi Charbeti, Da Pashto Sheri Adab and Da Qalam Khawandan are the TAZKIRAS which includes short life and works of the writers from whole Pashtoonkhwa. Author of this paper has critically analyzed the literary work i.e: "TAZKIRA NIGARI" of Hamaish Khalil. The author poited out errors committed by the writer in the light of valid arguments.

ښاغلی همېش خلیل یو ګڼ اړخیز علمي او ادبي شخصیت دی، هغهٔ د تحقیق او تنقید په میدان کښې پښتو ادب ته ډېرې زیاتې بخښنې کړې دي، په دې مقاله کښې مونږ د ښاغلي همېش خلیل د تذکره نګارۍ جائزه اخلو خو دغه بحث ته وړاندې وړومبی د تذکره نګارۍ په حواله هم څهٔ وئیل ضروري ګڼم.

تذکره په ادبي اصطلاح کښې هغه کتاب ته وئیلی شي په کوم کښې چې د شاعرانو، ادیبانو، سیاستدانانو، هنرمندانو او دغسې د نورو اهمو شخصیاتو د ژوند، خاندان او زمانې د حالاتو او واقعاتو سره سره د دغو شخصیاتو په خپل خپل مېدان کښې د خدماتو او کارنامو ذکر شوی وي او دغه لړ کښې څنې بنیادي او اهم معلومات په کښې خوندي شوي وي. په بنیادي توګه تذکره هم یو تحقیقي دستاوېز وي چې د تذکره نګارۍ په چوکاټ کښې دننه په کښې تحقیقي مواد را غونډ کړی شوي وي. تذکره نګاري په یو وخت د تحقیق، تنقید او تشریح وظیفه ترسره کوي چې د علم و ادب او فن و هنر په مختلفو مېدانونو کښې ئې ضرورت پېښېږي.

په تذکرو کښې د شاعرانو او ادیبانو د ژوند حال او خدماتو د تفصیل وړاندې کولو په وخت د تذکره نګارۍ بنیادي جوړښت او روایت هم خیال ساتلی شي او د همدغه جوړښت

---

* Assistant Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

او روايت مطابق د شاعرانو، اديبانو حالاتو او کارنامو ته ترتيب ورکولی شي. دا جوړښت او ترتيب په مختلفو طريقو کېدی شي چې يوه طريقه ئې دا ده چې د شاعرانو اديبانو د پيدائش د نېټو په حساب سره تذکره مرتب کړی شي. د تذکره نګارۍ دغه قسم ته عمراني ترتيب (Chronological Order) وئيلی شي په دغه قسم تذکرو کښې ځوك چې مخکښې پېدا وي د هغهٔ حالات او کارنامې مخکښې او ځوك چې وروستو زېږېدلی وي د هغهٔ کارنامې وروستو بيانولی شي. دې نه علاوه دغه ترتيب د شاعرانو د نومونو د الف، ب په مناسبت هم کېدلی شي چې الفبائي ترتيب (Alphabetic order)ورته وئيلی شي. کله کله تذکره نګار د يوې تذکرې ترتيب د شاعر او اديب د ادبي مقام او اهميت په حواله هم کوي د تذکره نګارۍ دغه قسم ته حفظ مراتب وئيلی شي او کله کله خو په تذکرو کښې د پورته ذکر شوو ترتيبونو کښې د يو هم خيال نهٔ شي ساتلی بلکې تذکره نګار ئې په خپل ذوق د خپل مزاج مطابق ترتيب کوي خو بيا هم دا وئيل ضروري دي چې په وړاندې ذکر شوو ترتيبونو کښې د يو نه يو ترتيب خيال ساتل ضروري وي.

په تذکره نګارۍ کښې ځنې داسې تذکرې هم وي چې د مختلفو دورونو په نسبت سره ليکلی شي. د مثال په توګه د کلاسيکي دور د شاعرانو تذکره، د جديد دور د شاعرانو تذکره د اولسي دور د شاعرانو تذکره وغېره. ځنې تذکرې په علاقائي نسبت ليکلی شي لکه د خېبر د شاعرانو تذکره، د پېښور، ملاکنډ، لکي مروت، ژوب يا نورو سيمو د شاعرانو تذکرې وغېره او کله کله خو داسې هم وشي چې په يوه تذکره کښې د دغو ګڼو نسبتونو خيال ساتلی شي. يعني په يوه تذکره کښې د مختلفو دورونو د شاعرانو حال بيانولی شي يا د مختلفو سيمو د شاعرانو يوه تذکره ليکلی شي. دا ټول قسمونه دي چې هر يو په خپل خپل ځائې خپل اهميت لري او دغه اهميت د پښتو نه علاوه په نورو ژبو خصوصاً په مشرقي ژبو کښې ليکلې شوو تذکرو ته هم حاصل دی.

## د همېش خليل تذکرې

د همېش خليل په تحقيقي خدماتو کښې يوه ډېره اهمه کارنامه د زړو او همعصرو شاعرانو تذکرې چاپ کول دي. د زړو او نوو شاعرانو په حواله تر اوسه همېش خليل چې کومې تذکرې چاپ کړې دي د هغو تفصيل څهٔ په دې ډول دی.

(1) پښتانهٔ ليکوال. د همعصرو شاعرانو تذکره.

(2) ورکه خزانه. (دوه ټوکه) د زړو شاعرانو تذکره.

(3) د چاربېتې اوسني شاعران.

(4) د چاربېتې پخواني شاعران.

(5) جنګي چاربېتې.
(6) د پښتو شعري ادب.

دې نه علاوه همېش خلیل د پښتنو شاعرانو یوه ډائیرېکټري هم مرتب کړې ده چې د کال 1800ء نه تر 1975ء پورې اکثر شاعران پکښې شامل دي. "د قلم خاوندان" په نوم دغه ډائیرېکټرۍ کښې د شاعرانو شمېر تقریباً درې زره کسانو ته رسي.

## پښتانۀ لیکوال (وړومبی چاپ)

پښتانۀ لیکوال سره د دې چې د همېش خلیل د همعصرو لیکوالو تذکره ده خو په تاریخي ترتیب سره دا د همېش خلیل وړومبۍ تذکره ده. ځکه پرې بحث هم اول کولی شي. پښتانۀ لیکوال همېش صاحب په دوو ټوکو کښې چاپ کړې دی.

پښتانۀ لیکوال په وړومبي ځل په کال 1958ء کښې د دارالتصنیف پېښور له خوا چاپ شوی دی چې د شاعرانو شمېر پکښې یو کم یو نیم سل (149) دی. په دې وړومبي چاپ کښې د شاعرانو کلام سره همېش خلیل په ډېره مختصره توګه د شاعرانو حالات ورکړي دي. او د هر شاعر د کلام نمونه ئې ورسره ملګرې کړې ده. ښاغلی عبدالله بختانی خدمتګار په خپله مقاله "د همېش خلیل تذکره لیکنه" کښې د دغه کتاب په حقله لیکي:

"دا کتاب د پېښور، چارسدې، نوښار، مردان، کوهاټ، بنوں، کوټې، خیبر او وزیرستان د یو کم یو نیم سلو اوسنیو شاعرانو تذکره ده. د هر شاعر په باره کښې ډېر ضروري معلومات په لنډو الفاظو کښې ځائې شوي دي او د کتاب په یو دوه مخونو کښې وړاندې شوي دي. د هر شاعر یواځې یو یو شعر د کلام په نمونه کښې را وړل شوی دی. داسې معلومېږي چې د لیکنې د اختصار تر شا د مؤلف د شخصي اقتصاد سوال هم مطرح وي. ځکه چې هلته کتابونه په شخصي لګښتونو چاپ کېږي.. مګر بیا هم د همېش صاحب کار د شاباسي وړ دی چې د خپل قلم په زور ئې د الفاظو په اختصار، اقتصار او اقتصاد نه ئې داسې کار اخستی دی، چې ډېر مطلب ئې په لږو الفاظو کښې ځائې کړی دی".(1)

دوېم چاپ: د پښتانۀ لیکوال دوېم چاپ په کال 1961ء کښې د دارالتصنیف پېښور له خوا وجود موندلی دی. د پښتانۀ لیکوال په وړومبي او دوېم چاپ کښې ډېر فرق دی. وړومبي چاپ کښې د لیکوالو شمېر 149 دی او په دوېم چاپ کښې ځلور شپېتۀ (64). په وړومبي چاپ کښې د شاعرانو د کلام صرف یوه یوه نمونه ورکړې شوې ده. په دوېم چاپ کښې درې ځلور ځلور نمونې هم شته. په وړومبي چاپ کښې د لیکوالو په ژوند او فن په ډېر اختصار سره لیکنې شوي دي. خو په دوېم چاپ کښې د لیکوالو د ژوند او فن ښه

تعمیري، تنقیدي جائزه هم اخستی شوې ده. ځکه ښاغلی حبیب الله رفیع د پښتانهٔ لیکوال دوېم چاپ ته د یو ځانګړي کتاب یا تذکرې حېثیت ورکوي. هغه وائي:

"په لومړي چاپ کښې د شاعرانو شمېر 149 تنه دی. چې په دوېم چاپ کښې ئې تر درېمې برخې لږ زیات کسان راغلي دي او دې تفاوت لومړي چاپ ته د ځانګړي کتاب حېثیت وربخښلی دی".(2)

ښاغلی عبدالله بختاني خدمتګار صاحب هم د پښتانهٔ لیکوال دوېم چاپ دغه ځانګړتیا ته اشاره کوي او لیکي:

"پښتانهٔ لیکوال دوېم چاپ د لومړي چاپ عېن کاپي نهٔ ده. ډېر فرق پکښې راغلی دی. د کار د تکاملې سره یوه ښه نمونه ده. داسې معلومېږي چې همېش صاحب د لومړي چاپ نه وروستو د لوستونکو پوهانو نظریو او پېش نهادونو ته هم توجه کړې ده. پخپله ئې هم بیا غور کړی دی او د څېړنو په لړ کښې یو نوی مواد هم پیدا کړی او پخپل کتاب کښې ور زیات کړی دی. د هم دې له امله د کار حجم ئې زیات شوی دی. لومړی چاپ 336 مخونه دي او د 149 تنو پېژندنې پکښې ځائې شوې دي. مګر دوهم چاپ په څلور سوه مخونو کښې د 64 شاعرانو تذکره ده. په دوېم چاپ کښې مؤلف هم نوي معلومات زیات کړي دي. هم ئې د کلام ډېرې نمونې را وړې دي. د نثر لیکونکو د نثر نمونې ئې هم را اخستې دي. هغه شاعران چې سر بېره په پښتو، فارسي یا اردو یا نورو ژبو شعرونه وئېلي دي، د هغو د نورو ژبو د کلام نمونې ئې هم وړاندې کړې دي".(3)

د دې مطلب دا شو چې د پښتانهٔ لیکوال دواړه چاپونه په خپل خپل ځائې ډېر زیات اهمیت لري. ولې د څېړنیز اهمیت په خاطر او د شاعرانو او لیکوالو په حقله د زیاتو معلوماتو په حواله "پښتانهٔ لیکوال" دوېم چاپ ډېره زیاته د اهمیت وړ تذکره ده چې د شلمې صدۍ په دې جدیدو شاعرانو دې نه مخکښې دومره مستنده او څېړنیزه تذکره نهٔ ده چاپ شوې. پښتانهٔ لیکوال په کال 1993ء کښې په درېم ځل د پښتو ادبي مرکز سرائی نورنګ بنوں له خوا مېدان ته را وتی دی دغه تذکره یو ځل بیا د یونیورستي پبلشرز له خوا په جولائي 2010ء کښې چاپ شوې ده چې تذکره نګار په کښې د شاعرانو په حالاتو او خدماتو کښې اضافې هم کړې دي او ځنې نوي شاعران ئې هم په کښې شامل کړي دي کوم چې د وړومبو جلدونو نه پاتې وو. په دغه تذکره کښې همېش خلیل صاحب اووهٔ نور شاعران شامل کړي دي او د هغوئ په ژوند او فن ئې تبصرې کړې دي. دغسې په تذکره کښې ټول یو اویا (71) شاعران او ادیبان شامل دي. د دغه کتاب په حقله همېش خلیل لیکي:

"د پښتنانهٔ لیکوال اول ټوك دغه دریم اشاعت په دغه وجه هم ډېر ضروري ؤ چې د دهٔ په شاملو لیکوالو کښې پرته څو د لیکوالو باقې ټول وفات شوي دي او هغه د چا خبره چې وفات شي نو پوره شي او چې پوره شي نو د ژوند په مېدان ئې دنیاوي کردار ختم شي او په داسې حالاتو کښې د کوم ادبي یا سیاسي وغېره شخصیت د ژوند په کردار لیکلو کښې وړاندې نو څهٔ پاتې نهٔ شي او لکه چې وړاندې هم ورته اشاره شوې ده د دې اشاعت لوی مقصد هم دغه ؤ بیا ځنو لیکوالو ته چې د وړومبي او دوېم اشاعت په وخت زما رسائي نهٔ وه شوې هغو کښې هم ځنې ادبي شخصیتونه لکه سید میر احمد شاه رضواني، منشي احمد جان، کاکاجي صنوبر حسېن مومند ، خانمیر هلالي، بهادر شاه ظفر، بي بي آمنه او شېرزمان طائزی دغه دریم اشاعت کښې شامل کړی شول". (4)

ښاغلي همېش خلیل په دغه کتاب کښې هسې خو د هر شاعر او ادیب د فکر و فن ښه کوټلې تجزیه وړاندې کړې ده خو دلته فقط د یو شاعر په حقله د همېش خلیل تبصره پېش کول په دې ضروري ګڼم چې هغه څومره په جامع انداز د هغهٔ د فني خدماتو احاطه کړې ده. د غني خان په شاعرۍ د تبصرې په وخت او د هغهٔ د شاعرانه مقام په حقله همېش صاحب لیکي:

"غني خان بنیادي طور د نظم شاعر دی او د شاعرۍ په دغه اهم صنف کښې خپل بلند او تېز پرواز د خپل دور د پښتو د شعر و ادب په تاریخ کښې په یو روښانه او ممتاز مقام ویاړلی دی.

پرته د شعر و ادب نه غني خان د فنون لطیفه په ځنو نورو برخو لکه مصورۍ او مجسمه سازۍ کښې هم لوی لاس لري د شعر و شاعرۍ د حسین تخیل عکاس، خپل لوی انداز فکر علم بردار او قدامت پسندۍ خلاف د بغاوت اواز دی. کیف او بېخودي، خمار او سرود، شوخي او رندي، حسن و عشق، رنګ و خیام د جذباتو او واقعاتو تصویر کشي د غني خان د کلام روح دی. د هغهٔ په رنګین او حسین تخیل کښې درد هم شته او درمان هم. شرنګ هم شته او ترنګ هم. جام هم شته او جهان هم. جلال هم شته او جمال هم. ولې سره د دې هرڅهٔ د دوئې انفرادیت کښې کم نه کم دا درې څیزه ډېر اهم دي. یو لکه چې وړاندې هم ورته اشاره شوې ده د خپلو خیالاتو او جذباتو د اظهار دپاره د صنف نظم انتخاب دوېم د لیکلو د ژبې په ځائې د وئیلو د ژبې رجحان او دریم د دوئې تنقیدي لهجه ده چې سنخه هم ده او ناخوښه هم ده. کېدی شي چې د شخصي اعتبار له مخه غني خان کوم اهم شخصیت نهٔ وي ولې د شاعرانه حسن او کمال ئې ډېر خلق قائل دي". (5)

د پښتـانۀ ليکـوال اول ټـوك دغـه دريم اشـاعت پـه ډيرو حوالـو اهميـت لـري ځکـه چـې دغـه تـذکره د شـلمې پيـړۍ د سـترو شـاعرانو يـوه ځـانګړې تـذکره ده او ورسـره ورسـره چـې کـوم شـاعران د وړومبـي اشـاعت نـه پـاتې شـوي دي د هغـو اهمـو شـاعرانو د ژونـد حـالات او د کـلام نمونې هـم پـه کښـې خونـدي شـوې دي. پـه خصوصـي توګـه د دغـو شـاعرانو د فکـر و فـن پـه حقلـه د ښـاغلي تـذکره نګـار ځـانګړې تبصـرې د يـوې معتبـرې او مسـتندې حـوالې حېثيـت لـري او پـه تېـره تېـره د مسـتقبل محققينـو دپـاره د تحقيـق نـوي موضـوعات هـم پـه ګوتـه کـوي. د پښـتانۀ ليکـوال اول ټـوك دريـم اشـاعت نـه پـس هـم همـېش صـاحب د شـلمې پيـړۍ د جديـدو شـاعرانو تـذکرې ليکلـې دي چـې پښـتانۀ ليکـوال دوېـم ټـوك او پښـتانۀ ليکـوال دريـم ټـوك پـه شـکل کښـې مخـې تـه راغلـې دي، دغـه تـذکرې پـه ترتيـب سـره پـه کـال 2011ء او کـال 2014ء کښـې شـائع شـوې دي، پښـتانۀ ليکـوال دوېـم ټـوك کښـې 71 شـاعران او دريـم ټـوك کښـې 21 شـاعران شـامل دي. پـه دغـو شـاعرانو کښـې اکثـر زلمـي شـاعران شـامل دي چـې همـېش صـاحب يـې د ژونـد حالات او د کلام نمونې محفوظې کړې دي.

**ورکه خزانه (اول ټوك)**

ورکـه خزانـه د پښـتو د قـديمو شـاعرانو تـذکره ده چـې وړومبـی ټـوك ئـې پـه فـروري 1960ء کښـې دارالتصـنيف پېښـور لـه خـوا چـاپ شـوی دی.. دې ټـوك کښـې ټـول څـوارلس شـاعران شـامل کـړی شـوي دي. چـې د ژونـد حـالات ئـې هـم بيـان کـړی شـوي دي. او پـه شـعر و فـن ئـې تبصره هم شوې ده، د دې کتاب په وړومبۍ وېنا کښې مولانا عبدالقادر مرحوم وائي:

"ښـاغلي حبيبـي پټـه خزانـه را برڅېـره کـړه ولـې ښـاغلي همـېش خليـل ورکـه خزانـه بيـا مونده"(6)

د دې اولنـي ټـوك پـه ديباچـه کښـې همـېش خليـل د ورکـې خزانـې د دوېـم ټـوك پېشـن ګوئي په دې ټکو کړې وه:

"د يـوې بلـې خزانـې چـې د ورکـه خزانـه دوېـم ټـوك پـه نـوم بللـی شـي د راغونـډولو تکـل هـم جاري دی"(7)

پښـتو ادب کښـې د "ورکـه خزانـه" څـۀ مقـام او اهميـت دی پـه دې بـه وروسـتو بحـث کـولی شـي او ورسره به يې نيمګړتياوې هم په ګوته کولی شي.

**ورکه خزانه دوېم ټوك:**

د ورکـه خزانـه دوېـم ټـوك د دارالتصـنيف پېښـور لـه خـواد وړومبـي ټـوك نـه صـرف اتـۀ مياشـتې پـس پـه دسـمبر 1960ء کښـې چـاپ شـو چـې د همـېش خليـل د مقـدمې نـه عـلاوه د حمـزه

شینواري یوه سریزه هم لري. دې تذکره کښې شپږ دېرش شاعران چې یو پکښې د "نامعلوم" په عنوان شامل کړی شوی دی. راغلي دي. د دې کتاب ترتیب ګډوډ دی چې همېش خلیل ئې داسې وضاحت کړی دی:

"د کتاب ترتیب د څۀ خاص اصولو لاندې نۀ دی شوی. بلکې هغه شعراء د چا کلام چې په ګڼ تعداد لاس ته راغلو هغه وړاندې ولیکلی شول، او هغه شعراء د چا کلام چې نسبتاً کم او محض په یو څو غزلو مشتمل ؤ وروستو د حروف تهجي په بنا ولیکل شو"(8)

د ورکې خزانې دواړو ټوکونو کښې د شاملو شاعرانو او دې تذکرې په حقله ښاغلی عبدالله بختانی صاحب لیکي:

"په "ورکه خزانه" کښې د داسې شاعرانو شعرونه هم شته چې چا نۀ پېژندل او د مشهور پېژندل شوو شاعرانو هم. ښاغلي همېش د دغو ناپېژندلو شاعرانو تذکرې هم لیکلې دي او د پېژندل شویو په باره کښې ئې هم نوې نکتې را برخېره کړې دي"(9)

د عبدالله بختاني په پورته ورکړی شوې حواله کښې د هغۀ د دې خبرې سره خو اتفاق کېدی شي چې په ورکه خزانه کښې همېش خلیل ځنې نوي شاعران متعارف کړي دي خو ولې بختاني صاحب دې خبرې ته پام شوی نۀ دی چې د دغو نوو شاعرانو په تعارف او پېژندګلو کښې همېش خلیل نه ځنې تېروتنې شوې دي لکه د مثال په توګه مصري خانم چې په اصل کښې یوه کاتبه وه او همېش خلیل د هغې په حقله په ورکه خزانه دویم ټوك کښې لیکي:

"مصري خانم د بولاقو ختکو د بازګل خېل څانګې د احمد ګل قاضي لور وه. وئیلی شي چې احمد ګل د افضل خان او سعد الله خان په زمانه کښې د تیري قاضي ؤ چې وروستو بیا د دغه علاقې حاکم هم شو. مصري خانم یوه عالمه او فاضله پښتنه وه چې د کور محلت ماشومانو ته به ئې دیني درس ورکولو خپل کلي او خوا و شا علاقه کښې په بې بې مشهوره وه. د شعرونو مجموعه ئې لرله ولې اوس دغه مجموعه نۀ پیدا کیږي. صرف یوه منظومه فالنامه چې په شپږو شپېتو اشعارو مشتمله ده. د زمانې د دستبر نه بچ پاتې شوې ده. د مصري خانم وېنا پرته د روانۍ او سلاست نه د سادګۍ یوه ښۀ نمونه ده. چې د زنانه عقائدو نه علاوه د هغه علمي ماحول ترجماني هم کوي په کوم کښې چې د پښتو دا نوموړې شاعره زېږېدلې او لویه شوې ده"(10).

د همېش خلیل دغه تېروتنې ته ښاغلي حبیب الله رفیع صاحب هم اشاره کړې ده او صحیح صورت حال ئې هم واضح کړی دی. هغه د "فالنامه" په سریزه کښې لیکي:

"د خان بابا فالنامه ټول ټال 72 بېتونه لري چې په فصل نامه کښې د یوۀ ځانګړي فصل په توګه خوندي ده او هم ئې د مستقل اثر په حېث نسخې موندلې کیږي. د دې اثر

ځانګړې نسخې لـه دې کبلـه چې د خوشحال خـان نـوم نـۀ دی پـه کښـې راغلـی. د دۀ پـه نامـه نـۀ دی پېژنـدلی شـوې لـه هـم دې کبلـه کلـه چې د پښـتو پيـاوړي محقـق ښـاغلي همـېش خليـل تـه ثليريشـت کالـه پخـوا د مصـري خـانم پـه خـط د دې فالنـامې يـوه نسـخه لاس تـه ورغلـه نـو دۀ د مصري خـانم تـاليف وبللـه او د ورکـې خزانـې پـه دوېـم ټـوک کښـې ئـې د همـدې پـه نامـه څـو نمـونې خوندي کړې"(11)

نـو معلومـه شـوه چـې د همـېش خليـل د کـم عمـرۍ او د څېړنـې پـه کـار کښـې د ډېـرې بيـړې او د تحقيـق کـار د اوليـت پـه جذبـه د هغـۀ نـه دا قسـمه ادبـي او علمـي تېروتنـې شـوې دي خـو د دې تېروتنو سره د هغۀ د څېړنې او تذکرو د مجموعي اهميت نه بيا هم انکار نۀ شي کېدی.

## د قلم خاوندان

لکـه چـې وړانـدې ذکـر شـوی دی چـې "د قلـم خاونـدان" د شـاعرانو او اديبـانو مفصـله ډائرېکټـري ده چـې د 1800ء نـه تـر 1975ء پـورې د تخلـص پـه الفبـائي حسـاب د پښـتو تقريبـاً د درې ذره (3000) شـاعرانو تعـارف لـري. چـې پـه وړومبـي ځـل پـه پښـتو کښـې د ډائرېکټـرۍ اضـافه ده. دا ډائرېکټـري پـه کـال 1999ء کښـې پښـتو اکېډمۍ پېښـور يونيورسـټۍ او پښـتو ادبـي بـورډ پـه شـريکه چـاپ کـړې ده چـې د حـروف تهجـي (الفبـائي ترتيـب) پـه ترتيـب د شـاعرانو نومونـه او تعـارف پـه کښـې ورکـړی شـوی دی. ډاکټـر راج ولـي شـاه خټـک او محمـد اعظـم خـان د پښتو ادبي بورډ چېئرمېن پرې تعارفي خبرې ليکلې دي.

د "قلـم خاونـدان" د پښـتو يـوه ځـانګړې ډائرېکټـري ده تـر دې دمـه پـه پښـتو کښـې بلـه داسـې ډائرېکټـري نـۀ ده ليکلـې شـوې چـې پـه زرګونـو شـاعرانو او اديبـانو پـه حقلـه بنيـادي معلومـات پـه کښـې خونـدي وي، دغـه ډائيريکټـري د مسـتقبل محقيقينـو دپـاره سـودمنده ثابتېدی شي.

د دغه ډائرېکټرۍ د اهميت په حقله د پښتو ادبي بورډ چېئرمېن محمد اعظم خان ليکي:

"دا ډائرېکټري د ادب او تحقيـق پـه لـړ کښـې نـۀ يـوازې د يـو اهـم دسـتاوېز حېثيـت لـري. بلکې د شعر و ادب د خاونـدانو د کـار يـو اعتـراف هـم دی. تراوسـه پـورې زمـا د نظـر نـه پـه پښـتو کښې د دغه نوعيت داسې معياري کتاب نۀ ؤ تېر شوی. (12)

ښـاغلي همـېش خليـل دغـه ډائرېکټـري د دوو کـالو پـه مـوده کښـې وليکلـه. دا يـو ډېـر ګـران کـار ؤ دا تحقيقـي کـار هغـه څـوک کـولی شـي. چـې د ډېـرې زيـاتې حوصـلې خاونـد وي. همـېش صـاحب د دوۀ کـم اتيـا کـالو پـه عمـر کښـې د پښـتونخوا پـه مختلـف سـيمو وګرځېـدو او متعلقه مواد (DATA) ئې را غونډ کړل او خپل تحقيقي کار ئې مکمل کړو.

د زړو او نوو شاعرانو د تذکرو نه علاوه همېش خلیل د اولسي شاعرانو دوه تذکرې هم لیکلي دي چې دلته ئې یادونه کولی شي.

## د چاربېتې اوسني شاعران

"د چاربېتې اوسني شاعران" د همېش صاحب چاپ شوې تذکره ده. دې تذکره کښې د سکه.. دور 1800ء نه را په دې خوا تر دې دمه د تخلص په الفبائي ترتیب د هغو چاربېتو لیکونکو شاعرانو د ژوند حال او د چاربېتو نمونې ورکړې شوې دي. چې په مختلفو وختونو کښې ئې په مختلفو جنګې، ثقافتي او رومانوي موضوعاتو لیکلې دي. د دغو شاعرانو شمېر یو سل یوولس (111) دی. دا تذکره پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي په کال 2007ء کښې چاپ کړې ده.

د چاربېتې اوسني شاعران کښې همېش خلیل د چاربېتې وړومبی معلوم شاعر مویزی یاد کړی دی دې لړ کښې هغه لیکي:

"چاربېته د اولسي شاعرۍ یو مقبول صنف دی چې د خپل لفظي ساخت له مخه په مختلفو شکلونو لیکلی شي. پښتو ادب کښې تر دغه وخته د چاربېتې متعلق د تحقیق او لټون نه داسې برېښي چې په شعوري ډول د چاربېتې ابتدا د کال 1823ء نه سکهانو سره د سردار عظیم خان بارکزي د جهاد په وخت د مویزي شاعر د چاربېتې نه شوې ده."(13)

د چاربېتې اوسني شاعران نه پس چې د همېش خلیل دوېم کتاب د چاربېتې پخواني شاعران چاپ شو نو په هغې کښې ئې د نواب محبت خان برېځي دوه چاربېتې هم چاپ کړې. دغه چاربېتې همېش صاحب د محبت خان دیوان نه چې زلمي هېوادمل مرتب کړی دی را نقل کړې دي. محبت برېځ د مویزي شاعر نه مخکښې تېر شوی دی. په کار خو دا وه چې همېش صاحب په خپل دغه کتاب کښې دا وضاحت کړی وی چې محبت خان برېځ د مویزي شاعر نه مخکښې تېر شوی دی او د چاربېتې وړومبی شاعر ئې محبت خان برېځی ګرځولی وی البته په خپل وروستي کتاب د پښتو شعري ادب کښې د دې وضاحت په دې ټکو کوي:

"د کتاب د چاربېتې اوسني شاعران په پېش نامه کښې د چاربېتې د صنف وړومبی شاعر مویزی په ګوته شوی دی ولې د چاربېتې پخواني شاعران کښې هرکله چې نواب محبت خان برېځی (1750 – 1808) د خپلو دوه چاربېتو له مخه د مویزي شاعر نه پخوا تېر شوی دی ځکه نو د دۀ نه وړاندې د دغه صنف د بل کوم شاعر تر انکشاف دا ویاړ د نواب محبت خان برېځ په برخه دی"(14)

د دې کتــاب پــه ټائټــل صــفحه بانــدې د کتــاب نــوم غلــط ليکلــی شــوی دی يعنــي د چــاربېتې اوســني شــاعران پــه ځــائې د چــاربېتې شــاعران ليکلــی شــوی دی چــې وروســتو بيــا پينځو سوو (500) چاپ کتابونو کښې صرف په سلو کتابونو د نوم تصحيح شوې ده.

# د چاربېتې پخواني شاعران

"د چــاربېتې پخــواني شــاعران" د همــېش خليــل يــوه بلــه اهمــه تــازه چــاپ شــوې تــذکره ده چې پکښې د تخلص پـه الفبـائي ترتيـب د يـو سـل درې (103) پخوانـو شـاعرانو د ژونـد حـال او د چــاربېتو نمــونې ورکــړی شــوې دي. دا کتــاب هــم پښــتو اکېــډمۍ پېښــور يونيورســټۍ پــه کــال 2008ء کښې چاپ کړی دی.

د چــاربېتې اوســني شــاعر او د چــاربېتې پخــواني شــاعران لکــه چــې وضــاحت ئــې شــوی دی. د همــېش خليــل پــه دوه ټوکــه مشــتمله تفصــيلي تــذکره ده چــې پښــتو اکېــډمۍ پېښــور يونيورسټۍ دپـاره ئـې مرتـب کـړې ده پـه دې تـذکره کښـې يـو طـرف خـو د چـاربېتې د شـاعرانو د ژونــد حــال او د هغــوئې پــه چــاربېتو تبصــره پــه ډېــر اختصــار ســره شــوې ده او بــل طــرف تــه د دې دواړو ټوکونــو ســره پــه مجمــوعي توګــه هــم د همــېش خليــل تفصــيلي تبصــره او څېړنــه د مقــدمې پــه توګــه نــۀ ده شــامله کــړی شــوې. پــه کومــه کښــې چــې د دغــو چــاربېتو سياســي، معاشــرتي او ادبــي پــس منظــر څرګنــدولو ســره ســره د چــاربېتې پــه فــن او د پښــتو پــه اولســي ادب کښــې د چــاربېتې پــه اهميــت، تــاريخ، مقــام او پــس منظــر هــم د مفصــل بحــث ضــرورت محسوســېدۀ. البتــه د وړومبــي ټــوك ســره د همــېش خليــل پــه درې صــفحو مشــتلمه يــوه پــېش نامــه او د چاربېتې پخـواني شـاعران سـره د هغـۀ يـوه نيمـه صـفحه مشـتمله پـېش نامـه شـامله ده چـې د خپلــې موضــوع پــه حوالــه لوســتونکو تــه د تشــنګۍ احســاس ورکــوي خــو بيــا هــم پــه مجمــوعي توګــه دا څرګنــده ده چــې د دې دواړو ټوکونــو پــه ذريعــه د چــاربېتې د زړو او موجــوده دور شاعران محفوظ شول چې د همېش خليل يو اهم قومي خدمت ورته وئيلی شو.

# جنګې چاربېتې:

پـه اردو کښـې همـېش خليـل يـوه تـذکره ليکلـې ده چـې د جنګـي چـاربېتې پـه نـوم د پښـتو اکېـډمۍ پېښـور يونيورسـټۍ نـه پـه کـال 2007ء کښـې چـاپ شـوې ده. پـه دې تـذکره کښـې همــېش خليــل د هغــو شــاعرانو چــاربېتې او حــالات راغونــډ کــړي دي کومــو چــې د ســکهانو او انګرېزانو د حکمرانۍ خلاف چاربېتې ليکلي دي.

ښاغلي همېش خلیل په دغه تحقیقي کتاب کښې د چاربېتې په اهمیت رڼا اچولې ده او د چاربېتې فني محاسن ئې هم په ګوته کړي دي. وړومبی ئې د هرې چاربېتې پس منظر بیان کړی دی او بیا ئې اردو ترجمه ډېره په روانۍ سره کړې ده او وروسته ئې پښتو چاربېتې ورکړې دي. د همېش خلیل دغه کتاب د اردودانو دپاره هم د یو اهم معلوماتي کتاب حېثیت لري.

## د پښتو شعري ادب:

د پښتو شعري ادب د همېش خلیل یو بل کتاب دی چې پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ په دسمبر 2008ء کښې چاپ کړی دی. دې کتاب ته همېش خلیل د تذکرې نوم خو نۀ دی ورکړی بلکې هغۀ د یو تحقیقي اثر په حېث لوستونکو ته وړاندې کړی دی خو د دې کتاب حېثیت هم په اصل کښې د یو تذکرې دی ځکه چې وړومبی په کښې د شاعرانو د ژوند حالات او واقعات بیان شوي دي. د هغوئې په شاعرۍ او ادبي خدماتو تبصره شوې ده او بیا د دغو شاعرانو د کلام منتخبې نمونې ورکړی شوې دي. همدغه غوښتنې د یوې تذکرې وي چې د همېش خلیل کتاب پرې پوره خېژي.

دې تذکره کښې د یوویشت کلاسیکي شاعرانو حالات او د شاعرۍ نمونې ورکړی شوې دي. دې شاعرانو کښې زیات شمېر د هغو شاعرانو دی چې همېش خلیل ئې په حالاتو او خدماتو خپل کتاب "ساهو ادب" کښې بحث کړی دی خو ساهو ادب په خپله کوم نوی او بېل کتاب نۀ دی چې په نوو تبصرو او بحثونو مشتمل وي دې کتاب کښې د هغو دیوانونو مقدمې د دوېم نظر او معمولي غوندې اضافو سره شاملې کړی شوې دي کوم چې همېش خلیل په مختلفو وختونو کښې چاپ کړي دي. د پښتو په شعري ادب کښې یو شمېر داسې شاعران هم شامل کړی شوي دي چې نۀ خو په ساهو ادب کښې شامل دي او نۀ ئې همېش خلیل دیوانونه مرتب کړي او چاپ کړي دي. دې کتاب کښې د شاملو ټولو شاعرانو فهرست په دې ډول دی:

ارزاني خوېشکی، مېرزاخان انصاري، علي محمد مخلص، دولت لواڼي، واصل، خوشحال خان ختټک، حسین، اشرف خان هجري، عبدالرحمان بابا، عبدالقادر خان ختټک، سکندر خان ختټک، عبدالحمید مومند، کامګار خان ختټک، سعید ختټک، احمد شاه ابدالي، ملك معز الله خان مومند، قنبر علي خان، علي خان مهمندزی، بېدل، کاظم خان شیدا، رحمت داوی.

په دې کتاب کښې شاملو تحقیقي او تنقیدي تبصرو کښې ښاغلي همېش خلیل ځنې نوې خبرې او تنقیدونه هم کړي دي او ځنې معلومات ئې هم زاړۀ پېش کړي دي کوم چې د

وړانــدې نــه د هغــهٔ خپلــو کتــابونو او د نــورو لیکوالــو پــه څېړنــو کښــې موجــود دي. د زړو معلوماتو پېش کولو اعتراف په خپله تذکره نګار همېش خلیل هم کړی دی.

"دغـه کتـاب کښـې د خوشـحال خـان خټـك متعلـق مـا د دوسـت محمـد خـان کامـل مومنـد پـه اردو ژبـه لیکلـی کتـاب "خوشـحال خـان خټـك" نـه ډېـره اسـتفاده کـړې ده بلکـې د خوشـحال خان خټك حالات د کامل صاحب د ذکر شوي کتاب ترجمه او اختصار دی".(15)

پـه نـوو معلومـاتو کښـې هـم همـېش خلیـل ځنـې اضـافو تـه اشـارې کـړې دي لکـه د هغـهٔ دا الفاظ چې په کښې لیکي:

"هـم دغـه کتـاب کښـې د اګسـت کـال 1984ء نـه وړانـدې د رحمـان بابـا د چـاپ د واوينـو پـه اشـعارو د دوه غزلـو او نـورو مختلفـو غزلـو کښـې د ځنـو شـعرونو د انکشـاف پـه اضـافه هـم د دې کتـاب پـه حاشـیو کښـې چـې کـومې خبـرې شـوې دي. د هغـو د تفصـیل دپـاره دې د پښـتو اکېډمۍ پېښور د اګست کال 1984ء د "پښتو" مجله وکتلی شي". (16)

پــه ځنــو تنقیــدي بحثونــو کښــې هغــهٔ د حنیــف خلیــل پــه حوالــه د حمیــد بابــا د ترجمــه کــړې کتـاب "شـرعة الاسـلام" پـه حقلـه دعـویٰ کـړې ده چـې دا کتـاب د حمیـد ګڼـل مسـتنده خبـره نـهٔ ده. هغـه د نومیالي محقق عبدالشکور رشاد او زلمي هیواد مل په څېړنه کره کتنه کوي او لیکي:

"پـه کـال 1366هــ. ش د افغانسـتان د علومـو اکېډمۍ د پښـتو څېړنـو د بـین الاقـوامي مرکـز چـې کـوم کتـاب شـائع کـړی دی دا کتـاب د بخـارا د مفتـي امـام الـواعظ پـه اخلاقـي او اجتمـاعي موضـوعاتو د شـرعة الاسـلام پـه نامـه پـه عربـۍ ژبـه لیکلـی دی او پښـتو مثنـوي کښـې هـم پـه پښـتو د عبدالحمیـد نـومې شـاعر لـه خـوا ترجمـه شـوی دی. پښـتو کښـې د دغـه ترجمـې متعلـق عبدالشـکور رشـاد، دوسـت شـینواري او زلمـي هیوادمـل پـه خپلـو لیکنـو کښـې دا ترجمـه د عبدالحمیـد مومنـد خـدرېزي د قلـم نتیجـه ګڼلـې ده. خـو د پښـتو زلمـي محقـق حنیـف خلیل دغه لړ کښې د دوئې سره متفق نهٔ دی.

بهرحـال د شـرعة الاسـلام متعلـق دا یـو نـوی بحـث دی چـې اوچېړلـی شـو. بایـد محققـین ورته متوجه شي"(17)

پــه دې بنیــاد د دې کتــاب حېثیــت یــو خــوا کــه د یــوې تــذکرې دی نــو بــل طــرف تــه ورتــه د یــو تحقیقـي دسـتاوېز حېثیـت هـم حاصـل دی. ځکـه چـې د شـاعرانو د حـالاتو او شـاعرۍ پـه حقلـه د بحـث او تبصرې په وخت هغهٔ ځنو تحقیقي نکتو ته هم اشارې کوي او ورسره دلائل هم پېش کوي.

## د همېش خلیل په تذکره نګارۍ نیوکې

پـه تـذکرو د تنقیـد کولـو او نیوکـو پـه وخـت دې تـه هـم غـور پـه کـار دی چـې کومـه تـذکره پـه کـوم دور کښـې لیکلـې شـوې ده او پـه هغـه دور کښـې د تـذکره نګـارۍ څـومره اسـانۍ وې او د

تحقیق اصول تر کومه حده موجود وو. د همېش خلیل تذکرې سره د دې چې په جدید دور کښې لیکلې شوې دي چې د تحقیق اصول هم زمونږ مخې ته دي او د تذکره لیکنې اسانۍ هم شته خو بیا هم د هغۀ په لیکلې شوو تذکرو کښې ځنې تېروتنې شته چې ګوته ورته نیولې کېدی شي.

د هغۀ وړومبۍ تذکره "پښتانۀ لیکوال" ده چې وړومبی اشاعت ئې په کال 1958ء او دوېم په کال 1961ء کښې زمونږ مخې ته راغلی دی. دا تذکره د همېش خلیل د همعصرو لیکوالو په حالاتو او کارنامو مشتمله ده ځکه په کښې تحقیقي او علمي تېروتنې د نشت برابرې دي. ولې بیا هم په دې تذکره دا نیوکه هم کېدی شي چې همېش خلیل تذکرې دپاره ځنې کم اهم شاعران خو منتخب کړي دي لکه فضل اکبر بې نوم، ملك شېدا خان شینواری او ضابطه خان حلیم وغېره چې نن هم د هغوئ څۀ خاص ادبي کارنامې او مقام نۀ شته او د هم دغه دور ځنې ډېر اهم لیکوال ئې نظر انداز کړي دي لکه کاکاجي صنوبر حسېن مومند، خان میر هلالي وغېره چې په هغه وخت کښې ئې هم ادبي کار او زیار موجود ؤ. خو دا کمي اوس همېش خلیل په نوي راتلونکي اشاعت کښې پوره کړې ده. او د ځنو اهمو شخصیاتو اضافه ئې په کښې کړې ده. د پښتانۀ لیکوال د 1958ء په وړومبي اشاعت دا نیوکه هم کېدی شي چې په دغه اشاعت کښې د لیکوالو د ژوند حالات انتهائي اختصار سره لیکلی شوي دي او په فني خدماتو ئې تبصره هم نۀ ده شوې خو دا کمي هم همېش خلیل د 1961ء په دوېم اشاعت کښې پوره کړې ده او د لیکوالو په حالاتو او خدماتو ئې په زړۀ پورې معلومات ورکړي دي. ځکه د دغو څو نیوکو باوجود دا تذکره د پښتو ادب یوه قیمتي سرمایه ده چې د پښتو دانشوره طبقه به ترې همېشه استفاده کوي.

د همېش خلیل دوېمه اهمه تذکره ورکه خزانه ده چې په دوه ټوکه مشتمله ده او د پښتو د زړو نوم ورکو او ځنو کلاسېکي شاعرانو حالات او خدمات په کښې راغلي دي. ورکه خزانه کښې وړومبی د شاملو شاعرانو کلام په تسلسل سره شامل کړی شوی دی او بیا د کتاب په آخر کښې د ټولو شاملو شاعرانو د ژوند حالات په یو ځائې ورکړی شوي دي. حالانکې په کار داسې وه چې وړومبی د یو شاعر د ژوند حالات او په شاعرۍ تبصره وی او بیا د هغۀ منتخب کلام او دغسې ورپسې د نورو شاعرانو د حالاتو او کلام ترتیب هم ساتلی شوی وی خو دغه بې ترتیبۍ دپاره تذکره نګار په خپله دیباچه کښې جواز پېدا کړی دی او لیکلي ئې دي:

"په کار خو دا وه چې "ورکه خزانه اول ټوك" د دور په لحاظ ترتیب شوی وی او د هر شاعر د ژوند حالات اول او پسته ئې د کلام نمونه وی لېکن څۀ خو زما د ځنو ذاتي مجبورو او څۀ په زړۀ کښې د یوې مستقلې خطرې او د دغه خوارۍ د دوباره ضائع کېدلو د خوف

پېښ نظر لکه چې باید وو ما ونۀ کړی شول. دغه شعراء د ژوند د تحقیق په سلسله کښې ما تر خپله وسه ښۀ کوشش کړی دی او کومه نیمګړتیا چې په کښې محسوسيږي امید دی زما نه پس ئې تر څۀ حده څوك ترسره کړي". (18)

د دې تذکرې په حقله خپلو لنډو تاثراتو کښې مولانا عبدالقادر هم د همېش خلیل د دغه جواز تائید کړی دی او لیکلي ئې دي:

"همېش خلیل زۀ د خپلې دې ارادې نه هم خبر کړی یم چې هغه به د دې شعراء د ژوند حالات د یو بېلې حصې په طور د دې کتاب سره یو ځائې کوي. ځنګه ښۀ به وی چې که دغه حالات د شاعر د کلام نه مخکښې لیك شوی وی. بهر حال د مطلب خبره دا ده چې د دې شاعرانو حالات راغونډ شي او دغه همېش خلیل تر ډېره حده را غونډ کړي دي". (19)

ځکه مونږ د ورکې خزانې د وړومبې جلد دغه بې ترتیبي د خپلو نیوکو لاندې نۀ نیسو البته دا وضاحت بیا هم ضروري دی چې د هر جواز او هرې مجبورۍ له مخه وي. خو دا تذکره د تذکره نګارۍ په هغه ترتیب سره نۀ ده په کوم سره چې عموماً تذکرې ترتیب کولی شي.

د ورکه خزانه دوېم ټوك هم په خپل ځائې اهمیت لري ولې په دې تذکره کښې د شاملو شاعرانو او لیکوالو په حالاتو د همېش خلیل تبصرې او تحقیق باندې نیوکې کېدی شي لکه چې د دې تذکرې مقدمه نګار امیر حمزه شینواری په تذکره کښې شاملو دوو شاعرانو احسن او انور شاه د قومیت او قبیلوي تشکیل په حقله د همېش خلیل معلومات ناکافي او نیمګړې ګڼلي دي خو په هم دې تذکره لیکلو خپلو خبرو کښې همېش خلیل د امیر حمزه شینواري دغه نیوکو باندې تبصره کړې ده او خپل جواز ئې پېش کړی دی. همېش خلیل لیکي:

"حقیقت دا دی چې د دې کتاب د اکثرو شعراء کلام چې ما ته د کومو مختلفو ځایونو نه په لاس راغلو. هغه ټول سره د احسن او انورشاه د کلامه د دغه شعراء په خپل قلم نۀ ؤ لیکلی شوي. بلکې پرته د دغه کتاب د نورو شعراء د احسن او انور شاه کلام باالترتیب د یو خټك کاتب او یو اورکزي کاتب په قلم لیکلی شوې ؤ او دا احتمال ډېر قوي ؤ چې کاتبانو صاحبانو د دغه دوه ؤ شعراء کلام په خپله لهجه (یعنې د خټکو او اورکزو) کښې نقل کړی وي. علاوه د دې نه د یوې قبیلې د یو فرد بلې قبیلې ته د استوګنې په غرض تلل او هلته د ژوند تېرولو سره سره خارجي اثرات د هغۀ په تهذیب، تمدن او ژبه یا په لب و لهجه اثر انداز خو شي لېکن په قومیت ئې هیڅ اثر نۀ شي غورزولی. حقیقت هم دا دی چې انورشاه خپل پیر په بنګښو او اورکزو د خپلو مریدانو دپاره د ماذون په حېثیت رالېږلی ؤ او کېدی شي چې د انور شاه اورکزي لهجه او احسن د خټکو لهجه په اورکزو او خټکو کښې د ډېرې مودې د استوګنې نتیجه هم وي". (20)

په دې تذکره د حمزه بابا دغه نیوکې او نورې ذکر شوې نیوکې داسې دي چې جواز ئې پېش کېدی شي خو د ورکه خزانه دوېم ټوك يوه تېروتنه داسې ده چې د هغې جواز پېش کول هم ګران دی. تېروتنه دا ده چې په دې تذکره کښې ښاغلي همېش خلیل د "اکرم" په نوم د یو شاعر پېژندګلو او کلام پېش کړی دی او په باقاعده توګه ئې د اکرم د ژوند حالات او معلومات هم پېش کړي دي. حال دا چې دغه شاعر اکرم په خپله اشرف خان هجري دی چې د غیر منقوط کلام لیکلو د مجبوری، نه ئې اکرم تخلص کړی دی. د اکرم او اشرف په معنو که غور وکړی شي نو دواړه لفظونه معنوي نزدېکت هم لري. حمزه بابا په خپله سریزه کښې هم د همېش صاحب دغه تېروتنې ته اشاره نهٔ ده کړې بلکې اکرم یې د یو بېل شاعر په حېث ګڼلی دی او د هغهٔ په کلام یې زوردار تنقیدونه هم کړي دي. د اکرم اشرف دواړو کلام په یوه قلمي نسخه کښې هم د یو شاعر د کلام په توګه راغلی دی خو همېش خلیل په ورکه خزانه دوېم ټوك کښې د اکرم په حقله لیکي:

"اکرم د اشرف خان هجري 1044هـ. نه تر 1106هـ. د دور شاعر دی. داسې معلومیږي لکه چې هجري او اکرم دواړو به کله کله په یوه مزکه غزلې لیکلې. او هم دغه وجه ده چې د اکرم د روستو دوه غزلو نه په ردیف او قافیه د هجري په دیوان کښې غزلې موندی شي. مثلاً: د هجري د یو غزل مطلع ده:

راز مې هله هویدا د عشق مذکور که
چې مې خوښ دار ګي سر لکه منصور کهٔ

او د یو بل غزل په مقطع کښې وائي:

هجري ډېر دي شاعران په زمانه کښې
ما خو ستا شعر په واړو کښې منظور کهٔ

د اکرم غزلې د شاعری، یو خاص صنف لري چې بې نقطه شاعري بللی شي ولې باوجود د دغه صنفه د اکرم غزل د عام فهمه اوچتې دي. د مشکل الفاظو او معنوي مشکلاتو سره سره پېچیده او ګونجلکي هم دي. د دې په مقابله کښې اګرچې د هجري غزلې بې نقطه نهٔ دي ولې عام فهمه او رواني ضرور دي".(21)

دغه شان ځنې ورې او غټې تېروتنې د همېش خلیل په تذکره نګاری، کښې د هغهٔ نه شوې دي خو د دې دا مطلب هم نهٔ دی چې ګڼې دغو تېروتنو سره د هغهٔ د تذکرو اهمیت کمیږي.

دا خبره واضحه ده چې د زړو او نوو شاعرانو په حقله د تحقیق او څېړنې په لړ کښې د همېش خلیل تذکرې د یو بنیادي ماخذ حېثیت لري او دا هم څرګنده شوه چې همېش خلیل

په ځوانه ځوانۍ کښې د دومره زيات فکري بلوغت ثبوت ورکړی دی چې نن ئې د پښتو ځېړونکي د ځان دپاره د لارې مشال په حېث په کار راولي ځکه مونږ په مجموعي توګه د همېش خليل تذکره نګاري د پښتو ادب يوه بېش بها سرمايه ګڼلی شو.

❁❁❁

# حوالې


(1) خدمتګار، بختاني، عبدالله، سرمحقق، د ښاغلي همېش خليل تذکره ليکنه، مشموله، د کاروان ستوری، مرتبه جوهر خليل، پښتو ادبي ټولنه رېګي سيمه، پېښور، اګست 1999ء، ص 91.

(2) رفيع، حبيب الله، د همېش خليل پېژندنه، مشموله همېش خليل ژوند او فن (د حنيف خليل) باګرام ادبي جرګه پېښور، اپرېل 1997ء ص 23.

(3) خدمتګار، بختاني، عبدالله، سرمحقق، د ښاغلي همېش خليل تذکره ليکنه، مشموله، د کاروان ستوری، ص 91، 92

(4) خليل، همېش، پښتانۀ ليکوال اول ټوک، يونيورسټي پبلشرز پېښور، 2010ء، ص 7.

(5) ايضاً، ص 275، 276.

(6) عبدالقادر، مولانا، وړومبۍ وېنا، مشموله، ورکه خزانه اول ټوک، (د همېش خليل) دارالتصنيف پېښور، فروري 1960ء ص ص.

(7) خليل، همېش، ورکه خزانه اول ټوک، ص ک.

(8) خليل، همېش، ورکه خزانه دوېم ټوک، دارالتصنيف پېښور، دسمبر 1960ء، ص ص، ت.

(9) خدمتګار، بختاني، عبدالله، سرمحقق، د ښاغلي همېش خليل دوه مهمې تذکرې، مشموله هر بلبل به دې ثنا کا که ته ګل شوې، مرتبه شېر احمد خليل، همېش ملګري پښتونخوا پېښور، جنوري 2008ء، ص 48.

(10) خليل، همېش، ورکه خزانه، دوېم ټوک، ص 283.

(11) رفيع، حبيب الله، فالنامه د خوشحال خان خټک، خوشحال ريسرچ سېل، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي 1985ء ص 22.

(12) خان، محمد اعظم، يو څو خبرې، مشموله، د قلم خاوندان، مرتبه همېش خليل، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، پښتو ادبي بورډ پېښور، 1999ء، ص ز.

(13) خليل، همېش، د چاربېتې اوسني شاعران، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي 2007ء. ص 16.

(14) خليل، همېش، د پښتو شعري ادب، 1000- 1200ه.. پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، 2008ء، ص 487.

(15) **خلیل**، همېش، د پښتو شعري ادب، 1000- 1200ه.. ص 5، 6.
(16) **یضاً**، ص 9.
(17) **ایضاً**، ص 283 **تا** 285.
(18) **خلیل**، همېش، ورکه خزانه اول ټوك، ص ك، ل.
(19) **ایضاً**، ص ط.
(20) **ورکه خزانه**، (دوېم ټوك) ص لا، ء.
(21) **ایضاً**، ص 214.